د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان

ستره محکمه

اداري معاونیت

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

شمېره: ٦٨٢ / ٣٤٩

نېټه : ١٤٤٧/٢/٣٠ هـ . ق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐


**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د افغانستان اسلامي امارت د مخابراتو او ټکنالوژي وزارت محترم لوړ مقام ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په اداري چارو کې د تاریخ رسونې په اړه د میاشتې د لیدو د مرکزي کمېټې خبرتیا

قدرمنو! الله تعالی مو محفوظ او منصور ولره وبعد:

تاسې ته معلومه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د ( ١٤٤٣/٩/٢ نېټې او د ١٦٩١ ګڼې) حکم په اساس د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د میاشتې د لیدو کمېټه جوړه شوه، یاده کمېټه هره میاشت د خپل کاري طرزالعمل په اساس د هیواد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د میاشتې د لیدو لپاره مؤظف کسان ټاکلو ځایونو کې ځای پر ځای کوي، ترڅو د میاشتې د لیدو یا نه لیدو په اړه مرکزي کمېټې ته معلومات ورکړي. وروسته د میاشتې د لیدو مرکزي کمېټه په دې اړه رسمي اعلان کوي. په دې اساس د دغه مکتوب په وسیله چې د ١٤٤٧ هجري قمري کال د کلیزې د ربیع الأول میاشت او اعلان مو هم ورسره ضمیمه کړې، ترڅو تاسو ته خبر درکړو چې ټولې امارتي اداري مکلفې دي په خپلو مکتوبونو، مراسلاتو اوټولو اداري چاروکې د میاشتې د لیدو د مرکزي کمېټې د اعلان مطابق تاریخ ورسوي.

**په درنښت**

**شیخ عبدالحکیم«حقاني»**

**د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات**


Address: public health square ٩th District, kabul –Afghanistan

Phone: ٠٢٠-٢٣٠٢٢٦٣ - ٠٢٠-٢٣٠٠٣٦١

E-mail: Publications.sc١٤٤٣@gmail.com

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل افغانستان

تیلفون : ٠٢٠-٢٣٠٠٣٦١ - ٠٢٠-٢٣٠٢٢٦٣

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

## دوشنبه د ربیع الأول میاشتې لومړۍ نېټه ده

نن د ګران هېواد افغانستان په هېڅ ولایت کې د ربیع الأول میاشت نه ده لیدل شوې او نه کوم کس محاکمو ته د میاشتې د لیدو شاهدي وړاندې کړې ده؛ په دې اساس سبا یکشنبه د صفرالمظفر میاشتې ۳۰مه او بل سبا دوشنبې د ۱۴۴۷ هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې لومړۍ نېټه ده، چې د ۱۴۰۴هـ ش کال د سنبلې (وږي) میاشتې له ۳مې نېټې سره برابره ده.

**د افغانستان اسلامي امارت د میاشتو د لیدلو مرکزي کمېټه**



امارت اسلامی افغانستان

ستره محکمه

ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات

## روز دوشنبه تاریخ اول ماه ربیع الأول می‌باشد

امروز در هیچ ولایت افغانستان ماه ربیع الأول دیده نشده و نه هم کسی در رابطه به دیدن این ماه به محاکم شاهدی ادا کردند؛ به این اساس فردا یکشنبه تاریخ ۳۰ ماه صفرالمظفر و روز دوشنبه تاریخ اول ماه ربیع الأول سال ۱۴۴۷ هـ ق مصادف به تاریخ ۳ ماه سنبله سال ۱۴۰۴هـ ش می‌باشد.

**کمیتهٔ مرکزی رؤیت هلال امارت اسلامی افغانستان**

Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه



# د افغانستان اسلامي امارت

## ستره محکمه

**۳**

AUGUST-SEPTEMBER 2025

ربیع الأول
۱۴۴۷هجري قمري

وږى/ تله — سنبله/میزان
۱۴۰۴

| شنبه | یکشنبه | دوشنبه | سه شنبه | چهار شنبه | پنج شنبه | جمعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱ [۳] 25 | ۲ [۴] 26 | ۳ [۵] 27 | ۴ [۶] 28 | ۵ [۷] 29 |
| ۶ [۸] 30 | ۷ [۹] 31 | ۸ [۱۰] SEP | ۹ [۱۱] 2 | ۱۰ [۱۲] 3 | ۱۱ [۱۳] 4 | ۱۲ [۱۴] 5 |
| ۱۳ [۱۵] 6 | ۱۴ [۱۶] 7 | ۱۵ [۱۷] 8 | ۱۶ [۱۸] 9 | ۱۷ [۱۹] 10 | ۱۸ [۲۰] 11 | ۱۹ [۲۱] 12 |
| ۲۰ [۲۲] 13 | ۲۱ [۲۳] 14 | ۲۲ [۲۴] 15 | ۲۳ [۲۵] 16 | ۲۴ [۲۶] 17 | ۲۵ [۲۷] 18 | ۲۶ [۲۸] 19 |
| ۲۷ [۲۹] 20 | ۲۸ [۳۰] 21 | ۲۹ [۳۱] 22 | ۳۰ [تله] 23 | | | |


publications.sc1443@gmail.com
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه
2302263_2300361
ستره محکمه


**د اسلامي امارت په ادارو کې د قمري تاریخ د استفاده کولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله فرمان**

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱٤۳۷ هـ ق کال د شوال میاشتې د ۲۲مې نېټې په ۱۱۵/ج ۱ ګڼه فرمان کې راغلي:

د افغانستان اسلامي امارت ټولو ادارو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: ټولو ادارو ته هدایت ورکول کېږي چې په خپلو اداري کارونو کې قمري کلیز(تاریخ) اصل وګرځوئ او که کومه اداره مشکل ولري هغوی د قمري ترڅنګ شمسي او میلادي هم استعمالولی شي.